

# شپږ میاشتنی رپوټ

## د ۲۰۱۶ له جولای تر ډسامبره

له ۲۰۱۲ نه تر ۲۰۱۶ پورې د خبریالانو پر وړاندې د تا وتر یخوالو دارزونې ځانګړی رپوټ

/safetycomitee

/ajsc_af

.ajsc.af

AJSC
AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE

دخپریدونیته: د ۲۰۱۶ د جنورې ۹

**لنډيز**

- ۲۰۱۶ کال د افغانستان د رسنیو په تاریخ کې مرګونی اوخونړی کال شمېرل کېږي چې په دغه کال کې د کمېټې لخوا د خبریالانوپروړاندې دتاوریخوالي ۱۰۱پېښې ثبت شوې دي. په دغوپیښو کې د وژنو، ټپي کېدو ، ګواښونو او سپکاویو قضیې شاملې دي .

- په دې کال کې ۱۳ تنه خبریالان وژل شوي او ۸۸ د تاوتریخوالي پېښې رامنځته شوې دي .

- په وژنو کې لږ تر لږه د لسو هغو مسوول يې طالبان دي .

- د وژنو د ۱۳ پیښو تر څنګ د وهلو او ډبولو ۳۰ پېښې ، د ګواښونو ۳۵ پېښې ، د ټپي کېدو ۶ پېښې او دسپکاوي، توهین او بد چلند ۱۷ پېښې رامنځته شوي دي .

- په دې کال کې نه یواځې د څرنګوالي له پلوه تاوتریخوالی زیات شوی بلکې د تېر ۲۰۱۵ کال په پرتله تاوتریخوالی په سلو کې ۳۸ زیات شوی هم دی . په تېر کال کې یواځې د ګواښونو او تاوتریخوالي ۷۳ پېښې په کمېټه کې ثبت شوې وې .

- په ۲۰۱۶ کال کې حکومتي چارواکي د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په سلو کې د پنځوس سلنې مسوولیت پر غاړه لري . طالبان په سلوکې د ۲۰ او ناپېژانده وسله وال په سلو کې د ۱۴ پېښو مسوولیت په غاړه لري . په دې کال کې د تاوتریخوالي ډېرې پېښې په کابل زون کې رامنځته شوي چې د کابل او د کابل شمال ته پراته ولایتونه پکې راځي .

- په افغانستان کې دخبریالانو د وژنو زیاتوالی ،دغه هېواد د خبریالۍ دکار لپاره په ډېر خطرناک هېواد بدل کړی لکه څنګه چې د بې پولې خبریالانو بنسټ ریپوټ ورکړی چې افغانستان په ۲۰۱۶ کال کې د نړۍ په کچه د خبریالۍ د کارونو لپاره دویم خطر ناک هېواد شمېرل کېږي .

- د ۲۰۱۶ کال په دوهمو شپږو میاشتو کې ټول ټال د خبریالانو د وژنو ، ګواښونو او تاوتریخوالي ۴۷ پېښې رامنځته شوي دي . په دې شپږو میاشتو کې د خبریالانو ۳ د قتل پېښې ، ۱۴ د وهلو او ډبولو پېښې ۱۵ د تهدید پېښې ، ۳ د ټپي کېدو او ۱۲ د بد چلند او سپکاوي پېښې رامنځته شوي دي .

- دغه پېښې د تېر ۲۰۱۵ کال د دوهمو شپږو ماشتوپه پرتله په سلو کې ۳۸ سلنه زیاتوالی ښيي چې په هغه کال کې ۳۴ پېښې ثبت شوې وې .

- د ۲۰۱۶ کال په دوهمو شپږو میاشتو کې د تاوتریخوالي د ډېرو پېښو مسوولیت چې په سلوکې څلور شپیته کېږي حکومتي افراد په غاړه لري . طالبان په دویم کتار کې راغلي او د تاوتریخوالي د ۱۵ سلنه پېښو مسوولیت په غاړه لري . ناپېژانده وسله وال ۱۱ سلنه ، سیمه ایز زورواکي ۶ سلنه او د رسنیو مسوولین ۴ سلنه مسوولیت پر غاړه لري ، په دې موده کې ډېری پېښې په غربي زون کې رامنځته شوې دي .

- د خبریالانـو پـر وړانـدې د طالبانـو بریدونـو او ګواښـونو زیاتوالـی نـه یوازې د ګواښـونو ماهیـت تـه بدلـون ورکـړی بلکې پـه نـا امنـو سـیمو کې د خبریالانـو د پراخـې خودسانسـورۍ سـبب هـم ګرځیدلـی دی .

- پـه ناامنـو سـیمو کې طالبـان د تهدیدونـو تـر څنـګ کوښـښ کـوي د رسـنیو خپرنیـز مـواد هـم کنـټرول کـړي .طالبانـو پـه نـا امنـو سـیمو کې د تهدیدونـو تـر څنـګ پـه بېلا بېلـو ډولونـو او پلمـو لـه رسـنیو غوښـتي چې د ملي وسله والـو ځواکونواعلانونـه ، د ښځو غـږ ، سـولې ، موسـیقۍ او ځینـو حالاتـو کې د تفریحـي پروګرامونـو لـه نشرولـو ډډه وکـړي . ددې ډول کوښښـونو وروسـتي مـوارد پـه لوګـر ، غـزني ، وردګـو ، پکتیـا او پکتیـکا کې لیـدل شـوي دي .

- ددې کوښښـونو او ګواښـونو تـر څنـګ طالبانـو پـه  تهدیـد سره کوښـښ کـړی چې خپـل اړونـد خبرونـه پـه پراخـه کچـه پـه رسـنیو کې نـشر کـړي .

- د خبریالانـو او رسـنیو پـر وړانـدې د تاوتریخـوالي او تهدیدونـو پراخوالـی او زیاتوالـی دبیـان ازادۍ پایښـت چې د افغانسـتان لپـاره  د تېـرو ۱۵ کلونـو لویـه لاسته راوړنـه ګڼـل کېـږي لـه جـدي ګـواښ سره مـخ کـړې ده .

- لـه هـر بـل وختـه زیـات نـن د خبریالانـو لپـاره د خونـدي چاپېریـال رامنځتـه کولـو پـه موخـه دحکومـت ، خبریالانـو ، رسـنیزو بنسـټونو او رسـنیو تـر منـځ دهمغـږۍ او همـکارۍ اړتیـا لیـدل کېـږي . ددغسـې همغـږۍ او همـکارۍ نـه موجودیـت  بـه د خبریالانـو د خوندیتـوب د تدابـیرو اغېـز کـم کـړي.

- ۲۰۱۶م کال د حکومـت لخـوا د خبریالانـو د خوندیتـوب لپـاره د یـو شـمېر مثبتـو ګامونـو شـاهد هـم وو، لـه هغـې جملـې څخـه کولـی شـو د خبریالانـو د خوندیتـوب د طرزالعمـل تصویـب چې د امنیـت شـورا لخـوا وشـو نـوم واخلـو چې ددغـه طرزالعمـل پـه واسطه پـه کابـل او ولایتونـو کې د لـوړ پـوړو امنیتـي چارواکـو او خبریالانـو اسـتازو پـه ګـډون ګـډه کمېټـه د خبریالانـو د خوندیتـوب پـه موخـه رامنځتـه کېـږي . خـو دا چلنـد لار هغـه مهـال کولـی شي عمـلاً د خبریالانـو د خوندیتـوب پـه برخـه کې اغیزناکـه  واقع شي چې پـه جـدي او هـر اړخیـز ډول تطبیـق شي . پـه نسـبي ډول ددې چلنـد لار تطبیـق نـه شي کولـی د خبریالانـو پـر وړانـدې د شـته ګواښـونو حـل لار و اوسي .

# فهرست


سریزه ۱
د ۲۰۱۶ کال په دوېمو شپږو میاشتو کې تاوتریخوالی ۲
په ۲۰۱۶ کال کې تاوتریخوالی ۳
تاوتریخوالی د ډولونو له مخې ۴
د خبریالانو وژل کېدل ۴
د خبریالانو ژوبله ۵
د خبریالانو وهل ډبول ۵
دخبریالانو پر وړاندې تهدیدونه ۶
تاوتریخوالي د هغو دعاملینو په اساس ۷
دولت ۷
طالبان او مخالفې ډلې ۸
د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو د ماهیت بدلون ۹
پایله ۱۰
وړاندیزونه ۱۱

# د ۲۰۱۶ شپږ میاشتنی رپورټ

## سریزه

۲۰۱۶ کال د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې خونړی او مرګونی کال شمېرل کېږي . په دې کال کې ۱۳ تنه خبریالان ووژل شول ، هغه شمېر چې د افغانستان په تاریخ کې مخینه نه لري . له دې سره سره چې تهدیدونه د حکومتي افرادو په ګډون د بېلا بېلو ډلو لخوا رامنځته کېږي ، خو د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د طالبانو دریځ بدلېدل د تهدیدونو د زیاتوالي او تاوتریخوالي د مرګوني کېدا سبب ګرځیدلي .

خو ۲۰۱۶ کال د خبریالانو پر وړاندې د خوندیتوب د خوندیتوب  لپاره د یوشمېر لاسته راوړنو کال هم ګڼل کېږي . عمده لاسته راوړنه د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب په برخه کې دحکومت لخوا د چلند لار تعقیبول دي  چې د رسنیو ملاتړو بنسټونو د عدالت غوښتنې او پر له پسې غوښتنوپه نتیجه کې تر لاسه شوې . که دا چلند لار په ښه شکل تطبیق شي ، کولی شي  د خبریالانو پروړاندې امنیتي ستونزې تر یوې اندازې راکمې کړي .

دا د خوندیتوب کمېټې اتم شپږ میاشتنی ریپوټ دی چې د ۲۰۱۶ میلادي کال د دوهمو شپږ ومیاشتو په موده کې یې په درست هیواد کې د خبریالانو د خوندیتوب حالت ارزولی دی .هغه شمېرې چې په دې ریپوټ کې ځای شوي د کمېټې د پالسیو او چلند لار په نظر کې نیولو سره چې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په برخه کې یې لري ، راټول شوي او په دې ریپوټ کې ترې ګټه اخیستل شوې . دا په دې مانا ده چې کمېټه د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پېښو په اړه ځانګړی تعریف لري ، هغه پېښې چې دلیل یې د خبریالۍ له کار سره تړاو ونه لري ، د خبریالۍ د کار پر مهال رامنځته شوې نه وي ، او یا د خبریالۍ د چارو سره تړاو ونه لري ، د کمېټې لخوا د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیې په توګه نه ثبتېږي .

په دې ریپوټ کې کمېټې په دې دلیل چې د خبریالانو پروړاندې تاوتریخوالی د رسنیزوچارو د ازادۍ پر وړاندې د خنډ یو عامل دی ، د تاوتریخوالي شمېره ، منابع اوډولونه د تېروپنځو کلونو له (۲۰۱۲ م څخه د ۲۰۱۶ )تر پایه پورې ارزولي او څېړلي دي تر څو و کولی شو د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ماهیت او کیفیت د بدلون او زیاتوالي یو روڼ تصویر وړاندې کړو . په دې برخه کې کمېټې د تاوتریخوالي بڼې په څلورو کټګوریو (وژنې ،ژوبله ، وهنې او ګواښونو) ویشلي او د تاوتریخوالي عاملین یې هم په څلورو ډلو (دولت ناپېژانده وسله وال ، طالبان او سیمه ایزو زور واکو ) ویشلي دي . په دې ریپوټ کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالی  هر ډول او هر عامل ،د تېرو څلورو کلونو په جریان کې تر څېړنې او ارزونې لاندې نیول شوي دي.

## د ۲۰۱۶ کال په دویمو شپږو میاشتو کې تاوتریخوالی

د کمېټې لخوا د ۲۰۱۶ کال په دویمو شپږو میاشتو کې د خبریالانو د وژنو ، وهنو ، ځورونو ، تهدیدونو او تاوتریخوالي ټول ټال ۴۷ پېښې ثبت شوي دي . په دې شپږو میاشتو کې د قتل ۳مورده ، د وهنو ډبونو ۱۴ مورده ، د تهدید ۱۵ مورده ، د ټپي کېدو ۳ مورده او د بد چلند او سپکاوی ۱۲ مورده رامنځته شوي چې دغه رقم د ۲۰۱۵ کال د دویمو شپږو میاشتو په پرتله چې هغه مهال ۳۴ پېښې ثبت شوې وې، ۳۸ سلنه زیاتوالی ښیی . طالبان په دویمه درجه کې وو چې په سلو کې د پنځلس سلنه پېښو مسوولیت ورپه غاړه و . ناپېژانده وسله والو د ۱۱ سلنه ، سیمه ایزه زورواکو د شپږ سلنه او د رسنیو مسوولینو د څلور سلنه د تاوتریخوالو مسوولیت په غاړه لاره . په دې موده کې د تاوتریخوالي ډېرې پېښې د هېواد په سویل لویدیځ زون کې رامنځته شوي. د پېښو امار او د پېښو سلنه په لاندې ګرافونو کې توضیح شوي دي . له دې سره سره چې طالبان په کمی لحاظ د کمو پېښو مسوولیت په غاړه لري خو د طالبانو لخوا تاوتریخوالی په مراتبو د نورو ډلو په پرتله وژونکی دی. یعنې په اکثرو مواردو کې طالبانو د خبریالانو د وژلو قصد درلود .




| | |
|---|---|
| وژني | ۳ |
| وهل ډبول | ۱۴ |
| ګواښونه | ۱۵ |
| ټپي کیدل | ۳ |
| سپکاوی | ۱۲ |




| | |
|---|---|
| لو یدیځ | ۱۳قضیې |
| مرکزي زون | ۱۰ قضیې |
| سویلي زون | ۸ قضیې |
| سویل ختیځ زون | ۵ قضیې |
| شمال ختیځ زون | ۳ قضیې |
| شمال زون | ۴ قضیې |
| دکابل زون | ۴ قضیې |
| ختیځ زون | ۰ قضیې |

## په ۲۰۱۶ کال کې تاوتریخوالی

۲۰۱۶ کال د افغانستان د رسنیو په تاریخ کې د خبریالانو لپاره مرګونی او خونړی کال ګڼل کېږي . په دې کال کې ۱۳ تنه خبریالان ووژل شول ، طالبان لږ تر لږه د لسو وژنو مسوول دي . په دې کال کې د خوندیتوب کمېټې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۰۱ پېښې ثبت کړيدي چې د قتل ۱۳ مواردو ، ټپي کېدو ۶ پېښو ، وهنو ډبونو ۳۰ پېښو ، د تهدید ۳۵ پېښو ، د بد چلند او سپکاوي ۱۷ پېښو لرونکې ده . په دې کال کې نه یواځې د کیفیت له پلوه تاوتریخوالی سخت شوی بلکې د تېر کال په پرتله د تاوتریخوالي پېښو امار په سلو کې ۳۸ زیاتوالی ښيي چې په ټوله کې ۷۳ د تاوتریخوالي پېښې په کمېټه کې ثبت شوي دي . په ۲۰۱۶ کال کې حکومت ته اړوند مسوولیت ۵۱ دوسیې،طالبانو ته اړوند ۲۳ ،ناپېژندل شویو وګړو ۱۱ دوسیې ، د لاریون کونکو ۸ ، رسنیو د مسؤلینواړوند ۵ دوسیې او د زورواکو اړوند ۳ دوسیې موجودې وې . د خبریالانو پر وړاندې په ۲۰۱۶ کال کې دولت ۵۰ سلنه ، طالبانو ۲۰ سلنه ، او ناپېژندو وسله والو ۱۴ سلنه د تاوتریخوالي پېړه په غاړه لرلې ده . په دې کال کې په مرکز کابل او اړونده زون (شمالي ولایتونو) کې د تاوتریخوالي زیاتې پېښې رامنځته شوي چې د ټولو دغو پېښو سلنه په لاندې جدول کې شته . د خواشینې ځای دادی چې دولت اوس هم د خبریالانو د نه خوندیتوب او تاوتریخوالي پېړه پر غاړه لري .




| | | |
|---|---|---|
| وژني | ۱۳ | |
| وهل ډبول | ۳۰ | |
| ګواښونه | ۳۵ | |
| ټپي کیدل | ۶ | |
| سپکاوی | ۱۷ | |

| | |
|---|---|
| لو یدیځ زون | ۱۷ قضیې |
| مرکزي زون | ۱۸ قضیې |
| سویل زون | ۱۱ قضیې |
| ختیځ زون | ۴ قضیې |
| شمال ختیځ زون | ۱۰ قضیې |
| شمال زون | ۷ قضیې |
| سویل ختیځ زون | ۱۰ قضیې |
| دکابل او شمالي ولایتونو زون | ۲۴ قضیې |



# تاوتریخوالی د ډولونو پر بنسټ

## د خبریالانو وژل کېدل




د ۲۰۱۲ کال نه تر نن ورځې پورې د خبریالانو وژنه مخ پورته تللې ده چې په ټوله کې ۲۸ تنه خبریالان په تېرو پنځو کلونو کې په افغانستان کې وژل شوي چې په دې تناسب ۲۰۱۶ کال د ۱۳ تنو خبریالانو د وژنې پر بنسټ تر ټولو خونړی کال ؤ .او د مړینې لاملونه په تېرو پنځو کلونو کې مختلف ؤ .

په ۲۰۱۶ کال کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي عمده لامل د خبریالانو پر وړاندې د طالبانو د دریځ بدیدل و او خبریالانو او په هېواد کې د نا امنۍ زیاتوالی ؤ .د خبریالانو د وژنو زیاتوالی نه یواځې دا چې افغانستان د خبریالی د کاري ساحې لپاره خطرناک ثابت کړی بلکې ځاني سانسور یې هم د خبریالی او خبریالانو تر منځ په هېواد او په ځانګړې توګه په ولایتونو کې زیاتوالی موندلی . په ۲۰۱۴ کال کې د خبریالانو د وژنې یو لامل د مسوولیت لېږ د خارجي قواوو څخه داخلي قواوو ته او همدارنګه د ولسمشرۍ ټاکنې هغه څه وه چې یادې پېښې یې زیاتې کړې وي . په تېرو پنځو کلونو کې مختلفو کړیو لکه طالبان ، مافیا، زورواکي او یو شمېر ناپېژانده وسله وال د خبریالانو مړینې لاملین وه .




د خبریالانو وژل کېدل

## د خبریالانو ژوبله

په تېرو پنځو کلونو کې ۴۰ تنه خبریالان په خپله کاري ساحه کې ټپیان شوي دي چې ډېری یې د پېښوپه ځایونوکې دخبري پوښښ پر مهال چاودنو او یا هم امنیتي موظفینو ژوبل کړي دي . خو په ۲۰۱۴ کال کې د خبریالانو د ټپي کېدو او زیانمنېدو عمده لامل د مسوولیت لېرد او د ولسمشرۍ ټاکنې وې .







## د خبریالانو وهل ډبول

د تېرو پنځو کلونو په موده کې د خبریالانو د وهنو او ډبونو ۱۰۰ پېښې ددې شودونکې ده چې د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی د خبریالی په چاره کې لویه ننګونه وه او تر اوسه هم د بیان ازادی او رسنیو د ازادۍ د مخالفینو یوه لویه کتله په افغانستان کې شتون لري خو د تاسف ځای دلته ده چې د حکومت غړي او امنیتي مسوولین د خبریالانو د وهنو ډبونو ډېرو پېښو پره پر غاړه لري . د کمېټې د شمېرو پر بنسټ د وهنو او ډبونو زیاتره پېښې ، له پېښو نه د رپوټ چمتو کولو پرمهال ، د پېښې په سیمه کې رامنځته شوي دي او ډېری یې قصدي دي او ځینې یې غیر قصدي . په ډېرو برخو کې کله چې خبریالان وهل شوي ، کاري وسایل یې هم تخریب شوي او په ډېرو برخو کې د امنیتي ځواکونو لخوا د وهنې او ډبونې پېښې په تش بخښنه غوښتلو تړل شوي او موضوع په جدیت سره نه ده تعقیب شوې .




د خبریالانو وهل ډبول

## دخبریالانو پر وړاندې تهدیدونه

خبریالان د بېلا بېلو ډلو لخوا تر تهدید لاندې راځي ، ډېری تهدیدونه د حکومت ، طالبانو او محلي زورواکو له لوري رامنځته شوي زیاتره پېښې یا په دې دلیل رامنځته کېږي چې راپور یې د تهدید کوونکي د خوښې وړ نه وي او یا دا چې د تهدیدکوونکي د فرمایش د خپرولو په مقابل کې مقاومت شیې ، تر سره کېږي . زیاتر تهدیدونه چې د حکومتي منسوبینو ، او محلي زورواکو له لوري خبریالانو ته متوجه کېږي اکثره د هغو گزارشونو په دلیل وي چې فساد ، خپلوي پالل او یا هم دحکومتي مسوولینو ناسمه حکومتولي افشا کوي . په ۲۰۱۶ کال کې په هغو سیمو کې چې د طالبانو شتون او نفوذ پکې زیات ؤ طالبانو له رسنیو د ځانگړو موضوعاتو د نه نشرولو غوښتنه کوله لکه : د امنیتي ځواکونو یا د سولې اړوند اعلانونه ،د ښځو په اړه د پرروگرامونو ، او د موسیقی نه خپرولو او نورې موضوع گانې وي . ددې موندنو ورستنی بېلگې د غزني ، لوگر ، وردگو ، پکتیا او پکیتکا په ولایتونو کې څرگندې دي .

ددې تر څنگ طالبانو هڅه کړې چې خبریالان په گواښلو سره دې ته مجبور کړي ،هغه موضوعات چې ددوی د فعالیتونو اړوند وي د رسنیوتر پوښښ لاندې راولي. ، دا هڅه اوسمهال لا هم د پراخېدو په حال کې ده او موخه یې پر رسنیو د طالبانو کنټرول دی ، وروسته په افغانستان کې د داعش له ظهوره (ښکاره کېدو ) څخه یادې ډلې هم په دې برخه کې زیاتې هڅې کړې ، تر څو په زور او تهدید سره رسنی مجبوره کړي ، چې د دوی اړوند فعالیتونه نشر کړي او د نه نشرېدو په صورت کې به تر برید لاندې راځي. په جلال اباد کې په ۲۰۱۵ کال کې د پژواک پر خبري آژانس صفا او کلید راډیو گانو د داعش ډلې بریدونه هم د فرمایشي نشراتو د نه نشرولو د مقاومت په دلیل شوی وو چې ددغسې بریدونو ښې بېلگې دي. رسنی او خبریالان د محلي زورواکو د ډلو او گروپونو لخوا اکثراً د دوی د ظلمونو او بشري حقونو څخه د سرغړونو د ریپوټ ورکولو له امله له گواښونو سره مخ کېږي.

په ټوله کې پر هیواد د حکومت د اقتدار او حاکمیت د کموالي له امله د خبریالانو او د رسنیو پر وړاندې گواښونه زیاتیږي. دغه راز د یو اصل په توگه لرې پراته ولایتونه له دې حالته زیانمنیدونکي دي چې خبریالان او رسنی پکې ډېر د تهدید لاندې راشي.




دخبریالانو پر وړاندې تهدیدونه

## تاوتریخوالي د هغو دعاملینو په اساس

په تیرو پنځو کلونو کې مختلفې ډلې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي عامل ګرځیدلي دي. په ځینو حالاتو کې خبریالان د محلې زورواکو او عامو وګړو لخوا هم تر تاوتریخوالې لاندې راغلې دي خو د اندیښنې ځای دا دی چې دوه ډلې په پرله پسې ډول د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي عامل ګرځیدلي دي. یو له دغو دوو ډلو نه د افغانستان دولت دی چې د تاوتریخوالي د ډیرو پیښو عامل او سبب ګرځیدلی دی، بله یې د دولت مخالفې وسلوالې ډلې په ځانګړي ډول طالبان چې د تاوتریخوالي د ټولو خطرناکو پیښو سبب شوي دي، نوري لکه محلي زورواکان، نا پیژندل شوي وسلوال او ان د رسنیو مسوولین هم د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالی او ګواښ لامل شوي دي.دا چې هر کال په ترڅ کې د نورو ډلو لخوا د ترسره شویو تاوتریخوالو سم شمیرنه دی مالوم نو یواځې د دولت او طالبانو بیلا بیلو ډلو له خوا د شویو تاوتریخوالو پیښې او شمیرې ارزول کیږي.

## دولت

د دې ارزونې پر بنسټ هر کال په منځنی کچه د افغانستان دولت د خبریالانو او درسینو دکارکونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ځلویښتو ځخه د زیاتو پیښو عامل ګرځیدلي دي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان دولت تل د بیان ازادي او د رسنیو پرمختګ د خپلو لاسته راوړنو په توګه یادوي .له نیکه مرغه د هغو تاوتریخوالو کچه چې مسوولیت یې حکومت ته وپر په غاړه دی په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ م کلونو کې لکه څنګه چې په لاندې ګراف کې لیدل کیږي یو څه کموالی راغلی دید کموالي اصلي لاملونه یې هغه تابیاوې دیرچې د تاوتریخوالو او تهدیدونو د مخنیوي په برخه کې د ملي وحدت حکومت د مسوولینو لخوا د خبریالانو د ملاتړو بنستونود عدالت غوښتنې او تعقیب له امله نیول شوي دي.د بیلګې په توګه د ۲۰۱۶ م کال په لمړیو کې د ملي وحدت حکومت د خبریالانو د خوندیتوب او د لوی ځارنوالی لخوا د خبریالی او رسنیو په چارو کې د نه مداخلې د حکم صادریدل ؤ ، حکومت یو تن دبیان د آزادی د سفیر په توګه وټاکه چې ولسمشر ته د رسنیو د ملاتړ ټولنو لاس رسی ممکن کړي او ورسره د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قضیو د تعقیب په برخه کې مرسته وکړي. دغه راز د ۲۰۱۶ م کال د خزان په نیمایي کې د افغانستان حکومت د خبریالانو د مصونیت او خوندیتوب چلند لار تصویب کړه چې تطبیق یې کولای شي تر ډیره د خبریالانو او رسنیو خوندیتوب ممکن او امنیتي ستونزې حل کړي.

خو دا هیڅکله له خبریالانو سره د حکومتي چاراوکو د چلند ټولیز بدلون نښي شمیرل کیدلی ځکه چې اوس هم ډیری حکومتي مسوولین شته چې له خبریالانو سره مسوولانه چلند نه کوي.

د بیلګې په توګه : د خورشید تلویزیون خبریال صدام داودزی په ۲۷،۸،۲۰۱۶ امه نیته د المپیک د ملي کمیټې له مرستیالانو څخه د یو تن لخوا چې له بل مرستیال سره یې د مرستیالی په چوکی دعوه او جنجال لاره تحقیر اوتوهین کیږي چې ولې یې له دغو دواړو سره مرکې نه دي کړي په داسې حال کې چې اصلي ستونزه د دوی دواړو تر منځ وه او هر یو یې ځان د دې چوکی حقدار ګاڼه خو جزا یې باید خبریال لیدلای وای.

**همدارنګه :**

دغه راز د کلید راډیو خبریال مسعود انصار په ۲۲،۸،۲۰۱۶ نیټه هغه مهال چې د بهرنیو چارو وزارت د ستوري مانی د پرانستو د خبري پوښښ لپاره روان و د ولسمشر د ساتونکو لخوا وګواښل شو.ښاغلی انصار وایي چې دی د ولسمشر د ساتونکو له لوري په دې خاطر وګواښل شو چې د ولسمشر د راتګ په خاطر د لارو دبندیدا او نورو ستونزو تصویر یې دخپل مبایل په مټ فلم اخیسته، خبریال وایي چې د ولسمشر ساتونکو د ده دفلم اخیستو مخنیوی وکړ،کنځلې ورته وکړې او ورته یې وویل چې دوی کولای شي دی د عکاسی په جرم شپږ میاشتي بندي کړي، د نوموړي ګرځنده تیلیفون هم د ولسمشر د ساتونکو لخوا ضبط کړای شو.

په هرات کې د استقلال تلویزیون خبریال حسین نیکخواه په ۱،۸،۲۰۱۶ نیټه د شپې اته بجې هغه مهال چې  د هرات په څلورمه ناحیه کې د یو جنایي مظنون د نیونې له جریان څخه یې فلم اخیست د هرات د امنیه قومندانۍ د جنایي مدیر او سرتیرو لخوا تر فزیکي ، تحقیر او لفظي سپکاوي  او همدارنګه د یو څارنوال له تند او  له تحقیرڅخه ډک چلند سره مخ شو او د نیم ساعت لپاره د پولیسو په دریمه حوزه کې په بند کې وساتل شو .

دا ټول د دې ښکارندویي کوی چې حکومت تر اوسه هم د هغو وعدو په عملي کولو کې اقدام نه دی کړی کوم چې د خبریالانو او رسنیو د حقونو او له هغوی سره د چلند په برخه کې حکومتي چاراوکو ته د روزنیز پروګرامونو دجوړولو په برخه کې شوې وي، که دغه وعدې تر یوه بریده عملي شوي هم دي کافي او اغیزناکې نه دي.

دولت




## طالبان او مخالفې ډلې

په ۲۰۱۶ م کال کې د خبریالانو پر وړاندې د طالبانو ګواښونه بې مخینې دي. په لومړیو کې د طالبانو پالیسي د رسنیو سره پر نسبتاً ښوو اړیکو ولاړه وه. طالبانو هیله درلوده چې د رسنیو خبریالانو لپاره او هم د ځان لپاره د خبري پوښښ وړ شرایط برابر کړي. ځانونه خلکو ته ډیر ښه معرفي کړي خو دغې چارې طالبانو ته ګټوره پایله نه درلوده  د همدې لپاره دغې ډلې د خپلې کړنلارې په بدلون سره وغوښتل د خبریالانو او رسنیو په منځ کې د ویرې او ډار په رامنځته کولو سره د خپلو پېښو د خبري پوښښ لپاره زمینه مساعده کړي او دهغو مطالبو د نشر مخه ونیسي چې د افغانستان حکومت ته په ګټه رسیږي.په ۲۰۱۶ م کال کې د خبریالانو پر وړاندې د طالبانو لخوا پیښ تاوتریخوالي او تهدیدونه نه یواځې دا چې اعظمي حد ته ورسیده بلکې د ماهیت له پلوه هم ډیر وژونکي وګرځیدل ، لکه څنګه چې په دې کال کې ۱۳ تنه خبریالان ووژل شول او طالبان کم له کمه د لسو تنو خبریالانو د وژلو مسوولیت په غاړه لري. په دې کال کې د دې ډلې کوښښونه د رسنیو د خپرونو د کنترول په برخه کې هم زیاتوالی موند.

**طالبان او مخالفې ډلې**



## د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو د ماهیت بدلون

د ۲۰۱۵ م کال په پای کې په هیواد په مختلفو برخو کې د جګړې دشدت او  په ځانګړې توګه د کندز ولایت د سقوط پر مهال طالبانو د همدې کال د سپتمبر په میاشت کې د رسنیو پر وړاندې خپلو کړنو ته بدلون ورکړ، هغه څه چې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندی یې ددې ډلې ګواښونه لا ګړندي کړل.د جګړو په زیاتوالي سره طالبانو احساس کړه ، تر څو چې له جګړو څخه د رسنیو خبري پوښښ  د دوی د تبلیغاتي ستراتیژۍ سره سمون پیدا نه کړي د دوی نظامي لاس ته راوړنې نه شي کولای چې د ملي او بین المللي سیاست پر صحنې اغیزناک واقع شي ، دهمدې لپاره دوی هڅه وکړه چې د رسنیو او خبریالانو پر وړاندی خپل چلند ته تغییر ورکړي، رسنیو او خبریالانو ته لوی ګواښونه متوجه کړي دغه ګواښ طالبانو د طلوع او یک تلویزیونونو د پوځي هدف ګرځولو نه پیل کړل،چې په دې اړه یې یوه اعلامیه هم  خپره کړه. په پایله کې د ۲۰۱۶ م کال په جنورۍ کې د طلوع تلویزیون پر کارکونکو برید وشو چې اووه تنه دغه کارکونکي پکې شهیدان شول او شل تنه نور یې ټپیان کړل. د رسنیو پر کارکوونکو د طالبانو دغه برید نه یواځې  ډیر سخت وژونکی ؤ بلکې د رسنیو د کارکونکو ترمنځ یې د هیواد په کچه ویره او وحشت را منځته کړ، له هغې وروسته طالبانو هلې ځلې پیل کړي چې په نا امنه ولایتونو کې د رسنیو د پروګرامونو د کنټرول اجنډا ترلاس لاندې ونیسي.

په بیلا بیلو ولایتونو کې یې کوښښونه پیل کړل، چې رسنۍ په ځینوخاصو وختونو کې د ځینو پیښو له خپرولو څخه منع کړي، په ځانګړي توګه هغه پیښې چې طالبان یې خپریدل نه غواړي، لکه د ښځو د غږ خپریدل، په ټلویزیونونو کې د ښځو د تصویر خپریدل دځینو تفریحي پروګرامونو خپریدل، د امنیتي ځواکونو اعلانونه، د سولې اعلانونه، هغه څه چې د حکومت د کړنو او د بیا رغونې له لاسته راوړنو څخه دي او په ټوله کې هغه موارد چې د حکومت ښه بڼه ځرګندوي. په ځینو حالاتو کې طالبانو خپل نشراتي لارښودونه هم  رسنیو سپارلي دي چې  وروستی ډول یې د ۲۰۱۶ م کال د ډسمبر په میاشت کې هغه خپرنیز لارښود ؤ چې د طالبانو لخوا په لوګر ولایت کې سیمه ایزو رسنیو ته ورکړل شوی او له هغوئ غوښتنه شوې چې رسنۍ خپلې خپرنیزې کړنې دغه لارښود سره عیارې کړي.

د طالبانو تر څنګ داعشیانو هم د فشار د مختلفو ډولونو په کارولو سره هڅه کړې ده چې د رسنیو خپرونې تر خپل اغیز او نفوذ لاندې راولي او د دوی لوی حضور د رسنیو په خبري سرویسونو کې د خبرونو سرټکې جوړ کړي. د ننګرهار په ولایت کې داعش هڅه وکړه چې رسنۍ تر خپل اغیز لاندې راولي تر څو د دوی تخریبونکو پیښو ته پوښښ ورکړي ، هغوئ په مکرر ډول خپل  پیغامونه چې دوی ته یې ارزښت لاره رسنیو ته لیږل تر څو رسنۍ هغه نشر کړي.په عین وخت کې رسنۍ به یې ګواښلې چې که د دوی پیغامونه نشر نو به وربانديې بریدونه وکړي. د ۲۰۱۵ م کال په اکتوبر کې په کلید او صفا راډیو ګانو د داعش لخوا ړمې بریدونه وشول ، ځکه هغه مواد چې داعش یې دوی ته ورکوي نه یې خپروي.

له دې سره سره چې طالبان وتوانیدل د رسنیو او خبریالانو په منځ کې ویره او ترهه خپره کړي ، په هیواد کې یې ناامنې او بې ثباتۍ زیاتې کړې، ۲۰۱۷ م کال به هم د خبریالانو او رسنیو لپاره د ستونزو ډک کال وي. لکه څنګه چې د ۱۳ خبریالانو په وژل کیدو ۲۰۱۶ م کال د خبریالانو او رسنیو لپاره تر ټولو خونړۍ کال حسابیږي په ۲۰۱۷ م کال کې به هم کیدای شي دغه شمیرې لوړې وي.

د رسنیو په کارکوونکو او خبریالانو انفرادي بریدونه هغه څه دي چې اوس اوس تری ګټه پورته کیږي لکه په دې وروستیو کې چې د ۲۰۱۶ م کال د دسمبر په میاشت کې د ملي پیغام راډیو ریئس قاضي محمد نصیر مدثر په لوګر ولایت کې ووژل شو. که څه هم چې طالبانو د دې پیښې رسمي مسوولیت په غاړه وانخیسته خو ملي پیغام او زینت راډیوګانې څو څو ځلې په دې دلیل چې د دوی رسنیزه محتوا د ښځو غږونه، تفریحي پروګرامونه، سیاسي پروګرامونه او د امنیتي ځواکونو تبلیغاتي سپاټونه تشکیلوله، د طالبانو لخوا ګواښ شوې وې او په ملي پیغام راډیو خو لا څو کاله وړاندې هم یو وسله وال برید شوی و.د ۲۰۱۶ م کال د جولای په ۱۶ مې زینت راډیو د طالبانو لخوا یو لیک تر لاسه کړ، چې په دې لیک کې د راډیو له مسؤلینو څخه غوښتل شوي ؤ ، په خپلو پروګرامونو کې د ښځو غږونه خپاره نه کړي او د دې تر څنګ د راډیو ټول کارمندان باید ځانونه په اسلامي اصولو برابر کړي.

دغه ګواښونه او بریدونه د افغانستان په ناامنه برخو کې د دې سبب شوي چې د رسنیو په منځ کې پراخه خود سانسوري او ویره رامنځ ته کړي او په دې سیمو کې تر ډیره حده د رسنیو د خپرونو کنترول هم د طالبانو لاس ته ولویږي او دا هغه څه دي چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې لپاره د اندیښنې وړ دي ځکه چې په داسې حالاتو کې رسنۍ نشي کولای خپل هغه اساسي مکلفیتونه چې هغه مستقلانه کار او په بې طرفانه ډول د خلکو خبرول دي تر سره کړي.

## پایله

۲۰۱۶ م کال په دې دلیل چې د۱۳تنو خبریالانو د وژنې شاهد ؤ د افغانستان د رسنیو په تاریخ کې تر ټولو خونړۍ کال شمېرل کیږي او په دې خاطرچې ګواښونو وژونکي بڼه غوره کړې د دې سبب شوي چې افغانستان د خبریالۍ لپاره په یوه خطرناکه سیمه بدله شي.
د بی پولي خبریالانو د یو ریپوټ پر بنسټ افغانستان په ۲۰۱۶ م کال کې له سوریي وروسته د خبریالۍ لپاره تر ټولو خطرناکه هیواد ګڼل شوی. د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو زیاتوالي د خبریالانو او رسنیو ترمنځ ویره رامنځته کړې ده چې دې ویره رسنۍ او خبریالان خودسانسورۍ ته اړ ایستې دي. دې مسلې د هیواد په نا امنو سیمو کې په مراتبو زیاتوالی موندلای.

له دې سره سره چې د افغانستان حکومت لخوا په ۲۰۱۶ م کال کې د خبریالانو د امنیت د تآمین او خوندیتوب لپاره یو شمیر تدابیر نیول شوي چې له هغې جملې څخه کولای شو هغه چلند لارې ته اشاره وکړو کوم چې د امنیت شورا لخوا د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب لپاره تصویب شوي دي. خو بیا هم د خبریالانو اورسنیو مصؤنیت یوه جدي ستونزه ده او د رسنیو او بیان ازادۍ پر وړاندې، چې په تیرو پنځلسو کلونو کې د حکومت تر ټولو ستره لاسته راوړنه ګڼل کیږي په مخه کې یوه لویه ننګونه بلل کیږي.د خبریالۍ مسلک ته د حکومت په ډیرو منځنیو او لاندینیو سطحو کې اکثرآ د یوې ستونزې په سترګه لیدل شوي دي او د خبریالانو سره ناسم چلند تر سره شوی او د دوی کار ته په درنه سترګه نه ده کتل شوې. اطلاعاتو ته لاس رسۍ اوس هم د یوې ننګونې په توګه پاتې ده چې د ملي وحدت حکومت لخوا د یو شمیر تدابیرو سره سره اوس هم د یوې ستونزې په توګه ګڼل کیږي. د خبریالانو سپکاوی، ناسم چلند، د رسنیو او خبریالۍ کار ته په کم نظر کتل او ناسم چلند د فشار هغه ډولونه دي چې کولای شو تری یادونه وکړو.

یواځې که په تیرو وروستیو پنځو کلونو کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي پیښې وارزو، لیدل کیږي چې د تاوتریخوالي شمیرې د دغو پنځو کلونو په هر کال کې له اویاوو تر یو سل او دیرشو لوړې شوې دي.که څه هم د ۲۰۱۴ م کال په پرتله په ۲۰۱۵ م او ۲۰۱۶ م کلونو کې د تاوتریخوالي ګراف ټیټ شوی( په ۲۰۱۴ م کال کې د هیواد د سیاسي، امنیتي او اقتصادي واک د لیږد له امله د ناامنۍ پیښې زیاتې شوې وې)خو په ۲۰۱۶ م کال کې تاوتریخوالی په مراتبو وژونکی او ستغ ؤ او د ګواښونو کچه ډیره لوړه شوې ده.

یو بل شی چې په دی باب د تآثر وړ دی هغه د حکومت د منسوبینو لخوا تاوتریخوالی او ګواښونه دي چې د خبریالانو پر وړاندې ترسره کیږي .حکومت قانونآ، اصولآ او اخلاقآ د خبریالانو د امنیت په تآمین او خوندیتوب مکلف دی.

## وړاندیزونه

۱. دې تـه پـه پـام سره چـې د۲۰۱۶ م کال د خبریالانـو او رسـنیو لپـاره خونـړی کال ؤ د افغانسـتان حکومـت بایـد د خبریالانـو د امنیـت د تآمیـن او خوندیتـوب چلنـد لار د هیـواد پـه ټولـو ولایتونـو کـې پـه جـدي توګـه تطبیـق کـړي. پـه داسـی حـال کـې چـې د افغـان خبریالانـو دخوندیتـوب کمیټـه د دغـه چلنـد لارچـې یـو هـر اړخیـز او عمـلي سـند دی، لـه تصویـب څخـه هرکلـی کـوي خـو اغیزمنتـوب یـې پـه هـر اړخیـز ډول د جـدي تطبیـق مسـتلزم ګڼـي.

۲. د افغانسـتان حکومـت بایـد لـه خبریالانـو سره د چلنـد څرنګوالـی د امنیتـي ځواکونـو پـه تعلیمـي نصـاب کـې شـامل کـړي او د ټولـو حکومتـي کارکونکـو د عامـه پوهـاوي لپـاره داسـې پـراخ کمپایـن پیـل کـړي چـې معلوماتـو تـه د لاسرسي حـق پـه هـدف پیـل شـوی وي، دا چـې امنیتـي ځواکونـه دخبریالانـو پـر وړانـدی د یـو شـمیر ګواښـونو او تاوتریخـوالي مسـؤل دي پـه دې لحـاظ دا سـتونزه بایـد حـل شي.

۳. د رسـنیو او خبریالانـو پـر وړانـدی د ګواښـونو ژورو تـه پـه پـام سره رسـنۍ بایـد د خپلـو ادارو او کارمندانـو امنیـت جـدي ونیـسي او پـه دې برخـه کـې لازمـې تابیـا وې ولـري.د کارکونکـو د امنیـت تآمیـن د هـرې رسـنۍ قانـوني، اخلاقـي او اداري مکلفیـت ګڼـل کیـږي. پـه دې برخـه کـې هـر ډول ناغیـړي پـه هیـڅ ډول د توجیـه وړنـه ده.

۴. خبریـالان بایـد خپـل فـردي امنیـت تآمیـن کـړي او دخپـل امنیـت خوندیتـوب پـه لومړیتوبونـو کـې راولـي څکـه چـې بـل هیـڅ شـی نـه شي کـولای د دوی لـه امنیـت څخـه لومړیتـوب ولـري. خبریـالان بایـد د خوندیتـوب پـه هغـه لنډ مهالـه روزنیـزو پروګرامونـو کـې برخـه واخـلي چـې پـه وړیـا ډول د خبریالانـود خوندیتـوب کمیټـې لخـوا جوړیـږي.

۵. د خبریالانـو د ملاتـړ بنسـټونه بایـد د افغانسـتان حکومـت او خبریالانـو سره پـه لا ډیـری همغـږئ د یـو خونـدي کاري چاپیریـال پـه برخـه کـې د خبریالانـو لپـاره کار وکـړي، څکـه چـې د خبریالانـو د امنیـت د خوندیتـوب لپآره اغیزنـاک کار تـه تـر هـر بـل وخـت زیاتـه اړتیـا لیـدل کیـږي.

۶. نړیوالـه ټولنـه بایـد د افغانسـتان حکومـت، رسـنیو او د خبریالانـو د ملاتـړ بنسـټونو سره د خبریالانـو دخوندیتـوب د ښـه والي پـه برخـه کـې کار وکـړي. د بیـان او رسـنیو لـه آزادۍ څخـه سـاتنه چـې د تیـرو پنځلسـو کلونـو لـه سـترو لاسـته راوړنـو څخـه ګڼـل کیـږي د نړیوالـې ټولنـې لخـوا پـه لومړیتوبونـو کـې د شـاملولو اړتیـا لیـدل کیـږي. نړیوالـه ټولنـه د بیـان د آزادۍ پـه پرمختیـا او پـه افغانسـتان کـې د رسـنیو د زیاتـوالي پـه برخـه کـې عمـده رول درلـود نـو څکـه سـاتنه یـې هـم د افغانسـتان د حکومـت او نړیوالـې ټولنـې ګـډ مسـوولیت دی.